کله چې ستاسو څخه یو څوک خوله وازی (اړرمی) کوي، نو په خوله دې لاس کېږدي، ځکه چې شیطان ننوځي

له ابو سعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «کله چې ستاسو څخه یو څوک خوله وازی (اړرمی) کوي، نو په خوله دې لاس کېږدي، ځکه چې شیطان ننوځي».
[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي ﷺ هغه چا ته لارښوونه کړې چې د سستۍ او یا زیات خوراک له امله خوله وازی (اړرمی) کوي چې خپل لاس دې پر خوله کېږدي او خوله دې بنده کړي، ځکه که چېرته یې خوله خلاصه پاتې شي نو شیطان ورننوځي، نو لاس ابښودل یې د داخلېدو مخنیوی کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5280